# په لوړو زده‌کړو کې د محصل محوری طرزالعملونو پلي کولو ګټې او ننګونې: څېړنځای شيخ زايد پوهنتون

صالح خان صالح[1]، حبيب الله سليمانزی[2]

[1] معلوماتي سېستمونو څانګه، [2]معلوماتي ټکنالوژي څانګه کمپيوټرساينس پوهنځي، شيخ زايد پوهنتون، خوست، افغانستان

**ايميل**: **salih.angel@gmail.com**

## لنډيز

په معاصره نړۍ کې د زده‌کړې تمرکز له استاد محوره تګلارې څخه د محصل محوره زده‌کړې پر لور روان دی، چې محصل په کې د زده‌کړې اصلي محور ګڼل کېږي. دا څېړنه د شيخ زايد پوهنتون په کچه د محصل محوره طرزالعملونو د پلي کېدو وضعيت، ګټې، ننګونې او اړوند عوامل ارزوي. څېړنه د استادانو او محصلينو ليدلوري په اساس تر سره شوې ده، ترڅو د پاليسي جوړوونکو او پوهنتوني بنسټونو لپاره رغوونکي وړانديزونه وړاندې شي. د کمې تګلارې له لارې، د انلاين پوښتنليکونو پر بنسټ، د (۹۱) استادانو او (۲۷۶) محصلينو نظرونه راټول شوي دي. پايلې ښيي، چې محصل محوره زده‌کړه د فعاله ګډون، انتقادي فکر، مفاهموي زده‌کړې او فردي وړتيا وده رامنځته کوي، خو د استادانو د روزنې کمښت، د امکاناتو نشتوالی، په لوړو زده‌کړو کې د نصاب په اړه ستونزې او په ټولګيو کې زيات شمېر محصلين يې پر وړاندې اساسي خنډونه په ګوته شوي دي. دا مقاله د محصل محورۍ تګلارې د موثر تطبيق لپاره مهمې سپارښتنې وړاندې کوي، چې د لوړو زده‌کړو د کيفيت د لوړولو لپاره بنسټيز رول لري.

**کليدي ټکي**: محصل محوره زده‌کړه، لوړې زده کړې، د استاد رول، د محصل رول، ننګونې او فرصتونه

## سریزه

په نني عصري نړۍ کې زده‌کړیز سیستمونو له دودیزو ( استاد محوره ) تګلارو څخه د محصل محوره زده‌کړې SCL (Student-Centered Learning) پر لور تګ پیل کړی، چیرې چې محصل د زده‌کړې اصلي محور ګڼل کېږي او اساسي موخه یې پراخه زده کړې ته د محصلینو هڅول دي. دا نوی زده کړیز بدلون د تدریس او زده کړې په تګلاره، د ارزونې په میتودونو، زده کړیزو موخو او په زده کړه کې د محصل ونډې په برخو کې اساسي توپیرونه رامنځته کوي. په دې ډول زده‌کړه کې استاد د لارښود او ملاتړ کوونکي په توګه عمل کوي، نه د پوهې انتقالوونکي په توګه. ترڅنګ یې محصل یوازې د معلوماتو اخېستونکی نه، بلکې هڅه کېږي، چې یو فعال ګډونوال واوسي، فکري ځواک یې وده ومومي، ستونزو ته د حل په موخه تحلیلي لید لوری ولري، خپل ابتکار وکاروي او د ټولنیز تعامل مهارتونه پیاوړي کړي ( Hoidn 2017a , 2017b, 2019 ).

په افغانستان کې هم، د لوړو زده‌کړو محترم وزارت له خوا د وروستیو زده کړیزو پالیسیو له مخې، هڅه کېږي، چې د پایلو پر بنسټ زده‌کړه (OBE) او د محصل محور طرزالعملونه په لوړو زده‌کړو بنسټونو کې پلي شي. د نمونې په ډول، په (۱۳۹۹) هجري شمسي کال دلو میاشت کې ننګرهار پوهنتون د پایلو پر بنسټ او محصل محور زده‌کړې میتودونو په اړه یو ( ۱۲) ورځنی ورکشاپ جوړ کړ، چې په هغه کې د تدریس نوې تګلارې او د محصلینو ارزونې مختلفې لارې چارې وښودل شوې (Nangarhar University, n.d). همدارنګه کابل پوهنتون د (۱۴۰۲) هجري شمسي کال په وروستیو کې د نویو ګمارل شویو استادانو لپاره د د لوړو زده‌کړو وزارت استادانو تقرر او علمي ترفیعاتو رئیس په ګډون یو ٦ ورځینۍ ورکشاپ پیل شو. په دې ورکشاپ کې استادانو ته د تدریس اساسات، د ټولګي د مؤثر کنټرول میتودونه او د محصلینو د ارزونې اصولو په اړه عملي زده کړې ورکړل شوې (Kabul University, n.d).

د دې څېړنې موخه دا ده چې په شيخ زايد پوهنتون کې د محصل محورې طرزالعملونو پلي کېدل وڅېړل شي، د هغوی ګټې، ننګونې او د بریالیتوب په موخه اړين عوامل تشخيص کړي. څېړنه هڅه کوي د استادانو او محصلينو له ليدلوري دا بدلون وارزوي. ترڅنګ يې د پالیسۍ جوړوونکو، شيخ زايد پوهنتون او د افغانستان نورو پوهنتوني ادارو، استادانو او محصلينو لپاره مهمې سپارښتنې وړاندې کړي.

**اصلي موخه**

- په لوړو زده‌کړو کې د محصل محورې طرزالعملونو پلي کولو ارزونه، د هغو ګټې او ننګونې روښانه کول او د تطبيق لپاره لازمې سپارښتنې وړاندې کول.

**فرعي موخې**

- په شيخ زايد پوهنتون کې د محصل محور زده کړې (Student-Centered Learning) په اړه د استادانو او محصلينو د پوهې کچه معلومول.
- د محصلينو له نظره د محصل محوره تدريس ګټې تشريح کول.
- د شيخ زايد پوهنتون په چوکاټ کې د محصل محوره زده کړې پلي کېدو ته د شته امکاناتو ارزونه.
- د محصل محور طرزالعملونو پلي کېدو پر وړاندې اصلي خنډونو پيژندل.
- د محصلينو پر مسلکي او عملي مهارتونو باندې د محصل محوره تدريس اغېزو معلومول.

**تېرو اثارو ته کتنه**

له (۲۰۰۰) ميلادي کال وروسته، د نړۍ زياتره پوهنتونونو، په ځانګړي ډول د اروپا، استراليا او امريکا پوهنتونونو محصل‌محوره تګلارې په تدريجي ډول پلي کړې دي (Lea et al., 2003). د لوړو زده‌کړو په سيستمونو کې د دې تګلارې پلي کول د محصلينو فعاله ونډې، خپلواکې زده کړې او د زده‌کړو کيفيت ته وده ورکوي.

په دې توګه، پوهنتونونه هڅه کوي، چې محصلين د پوهې ترلاسه کولو په پروسه کې فعاله برخه واخلي او د استاد محوره تدريس څخه يې ازاد کړي.

د بېلګې په توګه، د يو شمېر آسيايي هېوادونو په لوړو زده‌کړو کې د محصل محوری طرزالعملونو د پلي کولو اړوند ځانګړي ګټې او ننګونې په لاندې جدول ۱ کې لنډيز شوي دي، څو لوستونکي وکولای شي د دغو هېوادونو د تجربو پر بنسټ يو روښانه انځور تر لاسه کړي.

| شماره | هېواد | ګټې | ننګونې |
|---|---|---|---|
| ۱ | **چين** | محصلين فعال ګډون ته هڅوي، د ګډې زده‌کړې، نظرياتو تبادلې او د ستونزو سره سم د حل توان ورکوي. دا تګلاره محصلين مسؤوليت‌پذير، نوښتګر او علاقمند کوي (Huang et al., 2020; Li & Wegerif, 2014; Luo et al., 2017) | د استادانو له خوا دوديز تدريس ته لومړيتوب ورکول، د محصلينو نابرابر ګډون، د نظر ويلو کلتوري خنډونه، د وخت او منابعو محدوديتونه (Huang et al., 2020; Li & Wegerif, 2014; Luo et al., 2017) |
| ۲ | **اندونيزيا** | محصلين خپلواکه زده کړه کولی شي، د راتلونکي لپاره ځان چمتو کولی شي او نوي مهارتونه زده کولی شي (Widodo, 2023) | د استادانو د لازمي روزنې نشتوالی او د زده‌کړو د منابعو کمښت د( Widodo, 2023) |
| ۳ | **سريلانکا** | محصلين د ستونزې پر بنسټ زده‌کړې او کوچنيو ګروپي فعاليتونو له لارې فعال ګډون کوي. (Samarasekera, 2020)، (Perera & Perera, 2020) | د استادانو د روزنې اړتيا، د منابعو کمښت او د دوديزو تدريسي تګلارو بدلون ته اړتيا او د اداري ملاتړ محدود ديت (Samarasekera, 2020)، (Perera & Perera, 2020) |
| ۴ | **پاکستان** | د د زده کړې په بهير کې فعاله برخه اخيستل دا د دوی تخليقيت، تنقيدي فکر او ستونزې حلولو مهارتونه پياوړي کول، د همکارۍ زده کړې وده او زده‌کړو ته د محصلينو شخصي هڅونه( Zafar et al., 2021)، (Malik, 2020). | د استادانو کم چمتو والی، د اسانتياو کمښت، د محصلينو غير فعال ذهنيت، زيات وخت او د نصاب اصلاح ( Zafar et al., 2021)، (Malik, 2020) |

له (۲۰۰۲) میلادي کال وروسته، په افغانستان کې د نړیوالو مرستو او پر مختللو تعلیمي سیستمونو پر بنسټ د تعلیمي اصلاحاتو یوه پراخه دوره پیل شو پیل شوه. نړیوالې ادارې لکه: USAID، GIZ، UNESCO او داسې نورو ادارو د افغانستان تعلیمي سیستم ته نوي بدلونونه راوړل. د دې ادارو په ملاتړ، محصل‌محوری زده‌کړو ته ځانگړې پاملرنه وشوه. موخه یې دا وه، چې محصلین یوازې د معلوماتو اخیستونکي نه، بلکې د خپلو زده‌کړو په پروسه کې فعال او خپلواکه رول ولري (Ministry of Higher Education [MoHE], 2016).

## محصل محوره زده کړیز چاپیریالونه

په تېرو دوه لسیزو کې، د زده‌کړې پروسې د ښه والي لپاره نوي زده کړیز چوکاټونه یا ماډلونه رامنځته شوي، چې پر مټ یې محصلین کولی شي خپله پوهه د خپلو تجربو، فکرونو او فعالیتونو له لارې زیاته کړي، نه دا چې یوازې معلومات له استاد را نقل او حفظ یې کړي. له دې پرمختگونو سره، لا هم د محصل محوری پر بنسټ زده‌کړیز چاپېریالونو (Student-Centered Learning Environments SCLEs) د جوړولو لپاره روښانه او عملي لارښوونې محدودې دي. د زده کړې دا ډول چاپېریالونه محصلین د زده‌کړې په مرکز کې ځای پر ځای کوي او د دوی اړتیاوې، تجربې او لیوالتیاوې د زده کړیز بهیر اصلي محور جوړوي. کله چې محصلین د زده‌کړې په مرکز کې ځای پر ځای شي، د هغوی انگیزه لوړیږي، گډون یې زیاتېږي او د زده‌کړې کیفیت یې لوړیږي. دا چاپېریالونه بېلا بېلې بڼې لري، لکه د کمپیوټر په مرسته گډه زده‌کړه (Computer-Assisted Collaborative Learning) د ستونزې پر بنسټ زده‌کړه (Problem-Based Learning) او همکاره یا فعاله زده‌کړه (Collaborative/Active Learning) یادې ټولې بڼې په دې موخه رامنځته شوي دي، چې محصلین یوازې د سطحې زده‌کړې څخه د ژور تفکر، تحلیل او مفاهیمو درک په لور سوق کړي (Land et al., 2012).

د دې لپاره چې تدريس محصل محوره شي، د څېړونکو له خوا يې د پنځو اساسي برخو بدلون وړاندیز شوی دی، چې په لاندې برخه کې ورڅخه يادونه کېږي.

١. **د واک توازن:** په دوديزو ټولګيو کې ټول واک او پرېکړې يوازې د استاد له خوا تر سره کېږي، خو د واک توازن معنی دا ده، چې دا واک بايد لږ تر لږه له محصل سره شريک شي، څو محصلين هم د خپلې زده‌کړې په اړه نظر ورکړي، پوښتنې مطرح کړي، د موضوعاتو او تګلارو يا فعاليتونو په ټاکنه کې ونډه ولري.

٢ . **تدريسي محتوا:** زده کړيز يا تدريسي مواد بايد يوازې محصلينو ته د معلوماتو رسولو په موخه نه وي، بلکې دا مواد بايد داسې طرحه شي، چې محصلين وهڅوي ترڅو په خپله نوي پوهه تر لاسه کړي، د زده‌کړې اړوند مهم مهارتونه زده کړي او دا وپېژني. چې دوی څنګه زده کړه کوي (يعنې خپل زده‌کړيز حالت او اړتیاوې وپېژني)، دا ډول محتوا محصل ته دا فرصت ورکوي، چې فعاله زده‌کړه تجربه کړي، نه يوازې حافظه کار وي.

٣. **د استاد رول:** استاد بايد يوازې د تدريس کوونکي پرځای د لارښود او ملاتړ کوونکي رول واخلي، يعنې استاد بايد محصلينو ته فرصت ورکړي، چې خپله زده‌کړه په خپله پر مخ يوسي، په خپله فکر وکړي او ستونزې حل کړي، ترڅو د زده‌کړې تمرکز په محصل پورې محدود پاتې شي نه دا چې يوازې اوريدونکی وي.

۴. **د زده‌کړې مسؤوليت:** په محصل محوره تدريس کې محصل بايد د زده‌کړې لپاره مسؤوليت واخلي او دا مسؤوليت بايد د استاد پر ځای محصل ته انتقال شي.

۵. **د ارزونې موخه او لارې چارې:** ارزونه بايد يوازې د دې لپاره نه وي، چې محصل کامياب شو او که نه يا څو نمبرې يې تر لاسه کړې، بلکې دا بايد يوه رغوونکې (مثبت او پرمختيايي) پروسه وي، چې له لارې يې محصلين وهڅول شي او د زده‌کړې کچه لوړه کړي (Mandl & Friedrich 2006; Pintrich & Zusho 2002; Zimmerman 2002, 2013).

## میتودولوژي

د دې څېړنې لپاره کمي څېړنیزه تګلاره غوره شوې، چې معلومات يې په انلاين ډول د سروې پوښتنلیکونو له لارې راټول شوي دي. پوښتنلیکونه له تجربه لرونکو استادانو سره په مشوره له درېو اصلي برخو جوړ و: د ګډونوالو په اړه عمومي معلومات، د موضوع اړوند پوښتنې، د دوی نظرونه او تجربې. دا پوښتنلیکونه د شيخ زايد پوهنتون اړوند دولس ګونو پوهنځیو استادانو لپاره جلا او د محصلينو لپاره جلا برابر شوي وو، چې د (۹۱) استادانو او (۲۷۶) محصلينو څخه ځوابونه تر لاسه شوي دي. د پوښتنلیکونو اعتبار د ښوونې او روزنې برخې (۲۵)متخصصينو د نظرونو له مخې تثبيت شوی دی. راټول شوي معلومات د ګوګل فارم احصايوي تحليل له مخې په دغه څېړنيزه مقاله کې ځای په ځای شوي دي.

### په لوړو زده‌کړو کې د محصل محوری طرزالعملونو پلي کولو ګټې او پر وړاندې يې ننګونې

په لوړو زده‌کړو کې د محصل محوری طرزالعملونو پلي کولو ګټې او پر وړاندې يې ننګونې د څېړونکو له خوا په لاندې ډول بيان شوې دي:

### ګټې

- **فعال ګډون:** په محصل محوره زده کړه کې محصلينو ته د فعالې ونډې اخيستنې فرصتونه برابرېږي، چې په دې سره د زده کړې ژوره تجربه رامنځته کېږي (Biggs & Tang, 2011).
- **انتقادي فکر:** انتقادي فکر د زده کړې يو مهم مهارت دی، چې محصل ته د معلوماتو تحليل، ارزونې، نظر جوړونې او پر پېچلو ستونزو منطقي او ژور فکر کولو وړتياوې ورکوي. د دې ترڅنګ محصلين د سطحي معلوماتو منلو پرځای حقيقت موندنې ته هڅوي (Brookfield, 2012).

- **د مفاهمو پر بنسټ دوامداره زده کړه:** محصل محوره زده کړه هغه زده کړه ده، چې د حفظ پر ځای، پر پوهه، تحلیل، او تطبیق تمرکز کوي (Prince, 2004).
- **ګروپي او همکاره زده کړه:** ګروپي زده کړه د محصلینو ترمنځ باور، درناوی او د یو بل د نظرونو منلو فضا رامنځته کوي، چې دا د شخصي او مسلکي پرمختګ لامل ګرځي( Laal & Ghodsi ,2012 ).
- **فردي وړتیا:** په محصل محوره زده کړه کې هر محصل د خپل زده کړېز ظرفیت سره سم پرمختګ کوي(Felder & Brent, 2005).

**ننګونې**

**د استادانو مهارت:** د محصل محورۍ تګلارې په برخه کې استادان کافي مهارت نه لري، چې دا زده کړېز بهیر ټکنی کوي(Perera & Perera, 2020).

**د امکاناتو کمښت:** د تر سره شویو څېړنو له مخې په مخ پر ودې هېوادونه کې د لوړو زده‌کړو په برخه کې ټکنالوژي، کتابونه او انټرنېټ ته لاس رسۍ محدود دی(Perera & Perera, 2020).

**د محصل ناچمتووالی:** زیات شمېر محصلین د محصل محورۍ اصولو سره پوره اشنایي نه لري (Huang et al., 2020).

**د وخت محدودیت:** محصل محوره تګلاره زیات تیارۍ او وخت ته اړتیا لري (Zafar et al., 2021).

**موندنې**

د پوهنتلیکونو لومړی اصلي پوښتنه، د محصل محورۍ تدریسي تګلارې په اړه له شیخ زاید پوهنتون استادانو او محصلینو څخه په یو ډول وه مطرح شوي وه، چې ځوابونه یې په جدول ۱ کې راوړل شوي دي. له ځوابونو څخه څرګندیږی، چې (۳۵، ۴ ٪) محصلین او (۵۱، ۴ ٪) استادان د محصل محورۍ طرزالعملونو سره اشنایي لري. همدارنګه (۵۱، ۱ ٪) محصلین او (۴۷، ۴ ٪) استادان د محصل محورۍ طرزالعملونو سره متوسطه اشنایي لري. له پایلو څخه معلومیږي، چې دواړه ( استادان او محصلین) د محصل محورۍ طرزالعملونو په اړه پوره اشنایي نه لري.

**جدول (۱) د محصل محوری طرزالعملونو سره د استادانو او محصلينو اشنايی کچه**


| پوښتنه | ځواب ورکوونکي | ډېر زيات | زيات | متوسط | کم | هيڅ اشنايي نلرم |
|---|---|---|---|---|---|---|
| تاسو د محصل محوری تدريسي | **محصل** | ٪۷ | ۴،۲۸ ٪ | ٪۱،۵۱ | ۱۲، ۸٪ | ٪۷،۰ |
| تګلارې سره څومره اشنا یاست؟ | **استاد** | ۲،۱۳ ٪ | ۲،۳۸ ٪ | ٪۴،۴۷ | ۲،۱ ٪ | ۰ |

د پوښتنليکونو دوهمه پوښتنه د محصل محوره زده کړې څرنګوالي په اړه مطرح شوي وه، چې په دې اړه استادان او محصلين مثبت نظر لري او په دې ټينګار کوي، چې محصل محوره زده کړه فعاله زده کړه ده، تشويقي زده کړه ده، ازاده زده کړه ده، د همکارۍ زده کړې مهارت ته وده ورکوونکي زده کړه ده. په لاندې جدول۲ کې يې د سلنې له مخې نتيجه ليدل کېږي، خو په ځينو برخو کې لکه: همکارۍ زده کړې ته وده ورکول، فکري مهارت لوړول، ازاد بحث ته وده ورکول او د خپلواکې زده کړې په اړه د محصلينو سلنه ټيټه ښودل شوې ده. له دې پايلو څخه ښکاري، چې محصلينو ته د محصل محوره تګلارې اهميت په ښه ډول نه دی روښانه شوی.

**جدول(۲) د محصل محور طرزالعملونو پلي کولو څرنګوالی**

| پوښتنه | ځواب ورکوونکی | د فکر کولو مهارت | د همکارۍ زده کړې مهارت | د ازاد بحث مهارت | په ځان باور | خپلواکه زده کړه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ستاسو په اند، محصل محوره تدريس د | **استاد** | ٪ ۵،۶۴ | ٪ ۹،۵۳ | ۲،۶۳ ٪ | ٪۷۵ | ٪ ۲،۶۳ |
| محصلينو په مهارتونو کوم تاثير لري؟ | **محصل** | ٪ ۲،۱۷ | ٪۳۱ | ۴،۳۰ ٪ | ٪ ۴،۶۴ | ٪ ۴،۳۰ |


د محصلينو په پوښتنليك کې يوه پوښتنه محصلينو ته په درسونو کې د فعاله برخې اخېستلو په موخه مطرح شوې وه. په دې اړه تر لاسه شوي ځوابونه په لاندې شکل ۱ کې ښودل شوي دي. د شکل۱ له مخې،(۴۲ ٪) محصلين وايي، چې دوی هر وخت په درسونو کې فعاله برخه اخلي، (۵۵، ۵ ٪) محصلين يې کله ناکله ګډون کوي او يوازې (۲، ۵ ٪) محصلين يې هيڅ ګډون نه کوي. دا ښيي چې ډېری محصلين د فعالو زده‌کړو له اصولو سره علاقه لري، خو لا هم د بشپړې پلي کېدو لپاره مناسب شرايط نه دي برابر. دا موندنه د دې ښکارندوی کوي، چې د محصل محوری زده‌کړې د مؤثر تطبيق لپاره مناسب چاپېريال، د استادانو او محصلينو ترمنځ همغږي او ملاتړ ته اړتيا ده.




**شکل( ۱) په درسونو کې فعاله ونډه اخېستنه**

د شيخ زايد پوهنتون استادانو د نظرياتو راټولو په موخه يوه پوښتنه په دې ډول (تاسو خپلې تدريسي تګلارې ته څومره محصل‌محوره تګلاره ويلی شئ؟) ترتيب شوې وه. په شکل ۲ کې تر لاسه شوې پايلې ښيي، چې (۵٦، ٦ ٪) استادانو خپل تدريس په متوسطه کچه محصل‌محور ګڼلی، (۲۸، ۹ ٪) يې دا تګلاره "زياته" محصل‌محوره ګڼلې، (۹،۲ ٪) بيا "کمه" محصل‌محوره ګڼلې او يوازې (۵، ۳ ٪) استادانو خپله تدريسي تګلاره "ډېره زياته" محصل‌محوره ګڼلې. دا ښيي چې د

استادانو زياته برخه لا هم د محصل‌محور تدريس د پلي کېدو لپاره لا نورو هڅو ته اړتيا ليدل کېږي، چې د استادانو مسلکي روزنې او اسانتياوو ته جدي پاملرنه وشي، ترڅو د دې تګلارې پلي کېدل لا موثر شي.




**شکل(۲) د محصل محوره تګلارې په اړه د استادانو نظرونه**

په پوښتنليکونو کې يوه پوښتنه په شيخ زايد پوهنتون کې د محصل محورې تګلارې پلي کولو په وړاندې د ننګونو په اړه وه، چې له استادانو او محصلينو دواړو څخه د نظر اخيستنې په موخه مطرح شوې وه. په جدول۴ کې ليدل کېږي، چې په هره برخه(امکانات، د مهارتونو کمښت، د محصلينو چمتو والی، د نصاب په اړه ستونزې او په درسي ټولګي کې د محصلينو زيات شمېر)کې د استادانو او محصلينو سلنې توپير لري. دا په دې معنی چې د امکاناتو په برخه کې (۵۶، ۶ ٪) استادان د محصلينو په پرتله زيات امکانات لري(کمپيوټر، انټرنېټ ته لاس رسی، برېښنا او نور لوازم)، چې دا د محصلينو په برخه کې (۷۶ ٪) دی يعني د استادانو په پرتله محصلين محدود امکانات لری. همدارنګه، د مهارتونو په برخه کې استادان د محصلينو په پرتله يو څه زيات مهارتونه لري او خپل درسي مواد(کورس پاليسی، پلانونه او مينولونه) د محصل محوری تګلارې په اساس په نورمال ډول ترتيب کوي. د دې ترڅنګ، د محصلينو نه چمتو والي په برخه کې د محصلينو سلنه ټيټه تر لاسه شوي

ده. په دې برخه کې زيات شمېر(٦٠، ٥ ٪ ) استادان باور لري، چې محصلين د محصل محوره زده کړې لپاره چمتو نه دي، خو محصلين هم ياده ستونزه تر يوه بريده تائيدوي. همدا راز د نصاب په اړه دواړه ډلې(٢٧، ٦ ٪) استادان او (٣٥، ٨ ٪) محصلين دا ستونزه تر يوه بريده تائيدوي. په ټولګيو کې د محصلينو زيات شمېر په اړه (٨١، ٦ ٪) استادانو دا يوه جدي ستونزه ګڼلې، چې ښايي له زياتو محصلينو سره انفرادي کار کول سخت وي. (٥٤، ٥ ٪) محصلينو هم دا ستونزه تجربه کړې ده. له پايلو څخه ښکاري، چې د زده‌کړې د کيفيت د ښه‌والي لپاره بايد د امکاناتو، مهارتونو، نصاب او په ټولګيو کې د محصلينو شمېر ته جدي پاملرنه وشي.

**جدول (٣) د محصل محورۍ طرزالعملونو د پلې کولو په وړاندې اساسي ننګونې**

| پوښتنه | ځواب ورکوونکي | د امکاناتو کمښت | د مهارتونو کمښت | د محصلينو نه چمتووالی | د نصاب په اړه ستونزې | په ټولګيو کې د محصلينو زيات شمېر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لاندې کوم خنډونه تاسو تجربه کړي، چې د محصل محور طرزالعملونو پلي کېدو ته مانع شوي دي؟ | **استاد** | ٦،٥٦ ٪ | ٦،٣٤ ٪ | ٥،٦٠ ٪ | ٦،٢٧ ٪ | ٦،٨١ ٪ |
| | **محصل** | ٧٦ ٪ | ٣،٥٥ ٪ | ٥،٣٠ ٪ | ٨،٣٥ ٪ | ٥،٥٤ ٪ |

## پايله

د تر لاسه شويو پايلو له مخې محصل‌محوره زده‌کړه د زده‌کړې کيفيت لوړولو، د محصلينو فعال ګډون زياتولو، انتقادي تفکر او د خپلواکې زده‌کړې د روحيې پياوړتيا لپاره يو مهم او اغېزناک ميتود دی. د شيخ زايد پوهنتون استادانو او محصلينو د دې تګلارې په ګټو ټينګار کړی، چې ورته پايلې په چين، اندونيزيا، سريلانکا، او پاکستان کې هم ليدل شوې، چيرې چې دا تګلاره د مؤثرې زده‌کړې لپاره اساسي بلل شوې ده. د دې ترڅنګ يې، د پلي کېدو پر وړاندې ځينې ننګونې هم روښانه

کړې دي، لکه د استادانو مهارتونو کمښت ، د استادانو او محصلينو لپاره د امکاناتو او تجهيزاتو کمښت، د نصاب محدوديتونه او د محصلينو غير فعال ذهنيت د دې نوې تګلارې د پلي کولو مخه نيسي. دا ننګونې د نورو هېوادونو له تجربو سره هم ورته دي، خو پرمختللي هېوادونه لکه چين او ماليزيا يې د ملي پاليسو، روزنيزو پروګرامونو او پراخو امکاناتو له لارې تر ډېره حل کړې دي. که افغانستان هم وغواړي، چې د محصل‌محورۍ زده کړې تګلاره بريالۍ کړي، په کار دي، چې يادو خنډونو حل ته جدي پاملرنه وشي. د دې څېړنې موندنو وښودله چې محصل محوره زده‌کړه د لوړو زده‌کړو په کيفيت باندې مثبتې اغېزې لري، خو د افغانستان په شان هېوادونو کې، په ځانګړي ډول د شيخ زايد پوهنتون په څېر اداره کې، د دې ميتود پلي کېدل له بېلا بېلو ننګونو سره مخ دی. استادان د محصل محوره تدريسي تګلارو پرګټو باور لري، خو د تدريسي وسايلو نشتوالی، د استادانو کم مهارت، د درسي چاپېريال نيمګړتياوې او د زده‌کړې دوديز سيستم دا پروسه ستونزمنه کړې ده. همدارنګه، محصلين هم د دې تګلارې له تطبيق سره علاقه لري، ځکه چې دا د هغوی ګډون، فکر کولو وړتيا او د زده کړې په برخه کې خپلواکي زياتوي، خو هغوی ته هم لازم مهارتونه او تشويقي چاپېريال ته اړتيا شته. د دغو خنډونو د له منځه وړلو لپاره اړينه ده، چې د استادانو مسلکي پرمختګ ته پاملرنه وشي، د پوهنتون تدريسي منابع تقويه شي او د زده‌کړې سيستم له سنتي بڼې څخه فعال او محصل محوره بڼې ته تبديل شي. په پای کې ويلی شو، چې د محصل محورۍ زده‌کړې طرزالعملونو پلي کول به نه يوازې د زده‌کړو کيفيت ته وده ورکړي؛ بلکې د محصلينو د فکري، عملي او ټولنيزو مهارتونو د ودې لامل به هم شي، چې دا د يوه پرمختللي، مسؤوله او فعاله ټولنې جوړولو لپاره يو مهم ګام دی.

**وړانديزونه**

- د محصل‌محورې زده‌کړې د ښه تطبيق لپاره اړينه ده، چې په ټولګيو کې د محصلينو شمېر معياري شي، تر څو هر محصل ته کافي وخت ورکړل شي.
- استادان مسلکي وروزل شي او د تدريس لپاره لازم امکانات برابر شي.
- محصلينو ته په کار دي، چې فعاله ونډه واخلي، له مخکې درسونه مطالعه کړي، پروژې، کورنۍ دندې ترسره کړي او په زده کړيزو بحثونو کې ګډون وکړي.

- د لوړو زده‌کړو په نصاب کې څه ډول، چې لازم دي تغیرات راشي، عملي زده‌کړو ته پاملرنه وشي
- د شیخ زاید پوهنتون رهبرۍ ته په کار دي، چې د دغې تګلارې پوره ملاتړ، څارنه او ارزونه یقیني کړي، ترڅو یو باکیفیته او فعال زده‌کړیز چاپېریال رامنځته شي.

## References


Biggs, J., & Tang, C. (2011). *Teaching for quality learning at university: What the student does* (4th ed.). McGraw-Hill Education.

Brookfield, S. D. (2012). *Teaching for critical thinking: Tools and techniques to help students question their assumptions*. Jossey-Bass. Habilitation Thesis. University of Zurich, Zurich.

Hoidn S. (2017a) *Student-Centered Learning Environments in Higher Education Classrooms*. Palgrave Macmillan,

Hoidn S. (2017b) *Student-Centred Learning Environments for Deeper Learning in Higher Education Classrooms*.

Huang, R. H., Liu, D. J., Tlili, A., Yang, J. F., & Wang, H. H. (2020). *Handbook on facilitating flexible learning during educational disruption: The Chinese experience in maintaining undisrupted learning in COVID-19 outbreak*. Beijing: Smart Learning Institute of Beijing Normal University

Kabul University. (n.d). *Outcomes-based education workshop initiated*. Kabul University. https://ku.edu.af/ps/ Accessed: May 12, 2025.

Kember, D. (2009). *Promoting student-centred forms of learning across an entire university.* Higher Education, 58(1), 1–13. https://doi.org/10.1007/s10734-008-9177-6

Laal, M., & Ghodsi, S. M. (2012). Benefits of collaborative learning. *Procedia - Social and Behavioral Sciences*, 31, 486–490. https://doi.org/10.1016/j.sbspro.2011.12.091

Land S.M., Hannafin M.J. & Oliver K. (2012) Student-centered learning environments: Foundations, assumptions, and design. In Theoretical Foundations of Learning Environments. (Jonassen D.H. & Land.

Lea, S. J., Stephenson, D., & Troy, J. (2003). Higher Education Students' Attitudes to Student-Centred Learning: Beyond 'educational bulimia'? *Studies in Higher Education*, 28(3), 321–334.

Li, M., & Wegerif, R. (2014). What does it mean to teach thinking in China? Challenges and opportunities. *Thinking Skills and Creativity, 11*, 22–32. https://doi.org/10.1016/j.tsc.2013.09.001

Luo, N., Zhang, M., & Qi, D. (2017). Effects of different interactions on students' sense of community in e-learning environment. *Computers & Education, 115*, 153–160. https://doi.org/10.1016/j.compedu.2017.07.010.

Mandl H. & Friedrich H.F. (eds.) (2006) Handbuch Lernstrategien [Handbook on Learning Strategies]. Hogrefe, Göttingen.

Ministry of Higher Education (MoHE). (2016). National Higher Education Strategic Plan. Kabul: MoHE.

Nangarhar University. (n.d). *Outcomes-based and student-centered teaching methodologies: A 12-day workshop on learning outcomes*. Nangarhar University. https://www.nu.edu.af/ps Accessed: May 30, 2025.

Perera, L.A.S., & Perera, R. (2020). Challenges of Implementing Student-Centered Learning in Sri Lanka. *Sri Lankan Journal of Educational Research*, 8(2).

Pintrich P.R. & Zusho A. (2002) The development of academic self-regulation: The role of cognitive and motivational factors. In Development of Achievement Motivation. (Wigfield A. & Eccles J.S., eds.), Academic Press, San Diego, CA, pp. 249–284.

Prince, M. (2004). Does active learning work? A review of the research. *Journal of Engineering Education*, *93*(3), 223–231. https://doi.org/10.1002/j.2168-9830.2004.tb00809.

Samarasekera, D. D. (2020). Transitioning to student-centred learning: A Sri Lankan case study. *Journal of University Teaching & Learning Practice*.

Suryaman, M., Cahyono, Y., & Widodo, W. (2023). Student-centered learning through Merdeka Curriculum: A pathway to independent and critical thinking. *Journal of Education and Practice*, *14*(5), 22–30. https://doi.org/10.7176/JEP/14-5-04.

Zimmerman B.J. (2013) From cognitive modeling to self-regulation: A social cognitive career path. Educational Psychologist 48(3), 135–147.

# Benefits and Challenges of Implementing Student-Centered Learning Practices in Higher Education: A Case Study of Shaikh Zayed University

Salih khan Salih[1], Habibullah Slimanzai[2]
Department of Information Systems[1], Faculty of Computer Science[2], Shaikh Zayed University, Khost, Afghanistan

**Email**: salih.angel@gmail.com

## Abstract

In the modern world, the focus of education is shifting from teacher-centered approaches to student-centered learning, where students watched as the primary focus of the learning process. This study evaluates the implementation status, benefits, challenges, and influencing factors of student-centered learning practices at Shaikh Zayed University. It explores perspectives from both instructors and students to provide constructive recommendations for policymakers and academic institutions. Using a quantitative methodology, data collected through online questionnaires from 91 faculty members and 276 students. The findings reveal that student-centered learning enhances active participation, critical thinking, collaborative learning, and the development of individual competencies. However, major challenges identified include insufficient lecturer training, lack of resources, curriculum-related issues, and overcrowded classrooms. This paper provides essential recommendations for the effective implementation of student-centered learning strategies, which play a fundamental role in improving the quality of higher education.

**Keywords:** Student-Centered Learning, Higher Education, Teacher Role, Student Role, Challenges and Benefits